# Our VOICES MULTILINGUAL

صداها • 声 • أصوات • Amazwi • 聲音 • Voces • Stemmen • Sora • آوازين

II چاپ، 3/2 ګڼه | www.houstonisd.org/voices | منی/ژمی 2022

## د حکمت او پند وینا



**ډاکټر خیچارا اي. براډفورډ، Ed.D.**
*اجرائیوي افسر، تخصصي تدریس او چوپړتیاوې*

2022-2023 تعلیمي کال ته ښه راغلاست! زما نوم خیچارا براډفورډ دی، او زه د 21 کالو راهیسې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کوم. زه خوښه یم چې هغو زده کونکو او کورنیو لپاره "لنګر" اوسم چې د ځانګړو نفوسو په دفتر کې چوپړي کیږي. موږ اوړی له بېلابېلو ډیپارټمنټونو سره په همکارۍ کې تیر کړی دی ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې موږ د خپلو ځانګړو زده کړو د اړتیاوو لرونکو زده کونکو ټولې اړتیاوې پوره کړو. زموږ ډیپارټمنټ د رئیس د پنځه-کلن ستراتیژیک ملاتړ کولو ته ژمن دی. سږ کال به موږ کار وکړو ترڅو د استثنایي اړتیاوو لرونکو زده کونکو ته اغیزناکې چوپړتیاوې او مرستې وړاندې کړو. مهرباني وکړئ دلته [کلیک کړئ ترڅو دغه پلان په تفصیل سره وګورئ.]

## د وړکتون والدینو لپاره

### د وړکتون د کوچنیانو د والدینو لپاره د کور تدریس (HIPPY)

HIPPY ښوونځي ته د چمتو کیدو پروګرام دی له والدینو سره مرسته کوي ترڅو د خپل وړکتون ماشوم اکاډمیک بریالیتوب لپاره چمتو کړي.

HIPPY د کور دننه، په کورنۍ تمرکز کونکی پروګرام دی چې HISD یې د 3 او 4 کلونو تر منځ عمر لرونکو ماشومانو والدینو ته، په انګلیسي او اسپانوي ژبو کې وړاندې کوي، او وړیا دی. موږ د 3 او 4 کلونو ترمنځ زده کونکو والدینو ته ښه راغلاست وایو، چې د HISD د HIPPY پروګرام څخه د مرستې ترلاسه کولو پواسطه د خپلو ماشومانو تعلیمي سفر پیل کړي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره په لاندې لینک کلیک کړئ. https://www.houstonisd.org/HIPPY




## د دوه ژبو د ښوونځي د ودانۍ مهم ټکي






**جیري نیکسن**
مدیر، د ویسټ بري عالي لیسه

تلپاتې د خور او ورور په څېر اړیکې چې له پخوا څخه جوړې شوې دي ځکه چې زده کونکو پر یو بل تکیه کړې ده او د لوبو او هدف لرونکي تدریس له لارې یې په طبیعي ډول سره د نوموړو اړیکو د رامنځته کولو وړتیا لرله. پداسې حال کې چې په انګلیسي ژبه خبرې کونکي والدین په لومړیو کې یو څه اندیښمن وو، هغوې په چټکۍ سره پوه شول چې خپل ماشوم او پروګرام باید څنګه ملاتړ کړي حتې که کورنۍ دنده یې په اسپانوي ژبه کې هم وه! د کورنیو ترمنځ اړیکې د ژبنیو خنډونو د شتون سربېره هم وده کوي، د دواړو مواردو د باور رامنځته کول په مراسمو او د ښوونځي په پېښو کې د خبرو اترو کولو د هڅو لامل ګرځي. زما ماشوم په هیروډ کې د پروګرام یوه برخه وه، چې له بېلابېلو ملګرتیاوو او په دوه ژبو باندې د پوهیدو او په دوه ژبو کې د لیک او لوست له ریښتونې پراختیا څخه یې ډېره ګټه پورته کړه. اسپانوي توب اوس د هغې د اصلي هویت یوه برخه او داسې یوه موضوع ده چې هغه پرې په خپل پاتې ژوند کې تکیه وکړي. دا یوه ریښتونې ډالۍ وه چې د دې پروګرام د ځواک په اړه مو مالومات ترلاسه کړل او د دې وړتیا ولرو چې دواړه د مدیر او یو والد په توګه د هغه ملاتړ وکړو.

دا هغه دلایل دي چې له امله یې ما پریکړه وکړه چې خپلې لورګانې د دوه ژبو په پروګرام کې شاملې کړم:

- ما غوښتل ډاډ ترلاسه کړم چې زما لورګانې به په خپلې مورنۍ ژبې، اسپانیایي کې خپلو مهارتونو ته پراختیا ورکړي، پداسې حال کې چې د یوازې انګلیسي ژبې پروګرامونو د زده کونکو پرتله به د انګلیسي ژبه په چټکۍ سره هم زده کړي. ما ویره درلوده چې هغوې به د خپلې کورنۍ له هغو غړو سره چې په اسپانوي ژبه خبرې کوي د خبرو کولو وړتیا ونلري ځکه چې هغوې پدې ژبه نه پوهیدل. زه پوهیدم چې د انګلیسي ژبې زده کړه به هرې پېښې ته له پاملرنې څخه پرته ترسره شي، له همدې امله دا موضوع مهمه وه چې ډاډ ترلاسه کړو چې هغوې نه یوازې دا چې هغه اسپانوي ژبه زده کوي چې موږ پرې په کور کې خبرې کوو، بلکه اکاډمیکه اسپانوي ژبه هم زده کوي.
- دا چې د دوه ژبو پروګرامونه په عمومي ډول سره د دواړو ژبو د ویونکو له مساوي ترکیب څخه جوړ شوي دي، نو د دواړو ډلو زده کونکي له یو بل سره مرسته کوي ځکه چې هغوې بله هغه ژبه چې پواسطه یې له یو بل سره نژدې اړیکې رامنځته کوي، زده کوي. نوموړی تعامل د ژور کلتوري پوهاوي په رامنځته کولو کې هم مرسته کولای شي. زما لورګانو د خلکو د بیلابیلو ډلو له بډایه ډول ډول کلتورونو سره اړیکې جوړې کړې. هغوې نه یوازې دا چې په ژبه کې کافي مهارت لري، بلکه له ټولنیز-کلتوري پلوه وړ دي او ډول ډول اړیکې او ملګري لري چې بېلابېلې کلتوري مخینې لري.
- په دوه ژبو پوهیدل، په دوه ژبو لیک او لوست کول، او د دوه کلتورونو لرل به زما لور ګانو ته دروازې پرانیزي ځکه چې هغوې د خپلې دویمې ژبې د مهارتونو په کارولو سره له نورو کلتورونو سره په لا ډېر اغیزناک ډول سره ښکېلیږي.

## د HISD د ټلویزون تولید وړاندې کوي

# ”د ESL mini درسونه: ”اپریندامو‌س جنتوز“

د  HISD 18 ټلویزوني کانال عیارول پیل کړئ، په AT&T U-Verse کې، او د Comcast په 99 کانال کې چې د ډ سبمبر په 7، 2022 کې اونیزې خپرونې پیلیوي!!

د BakerRipley ټولنې رامنځته کونکي له HISD سره د اسپانوي خبرې کونکو والدېنو او مراقبت کونکو د وړاندې کولو پواسطه مرسته کوي ترڅو د ESL mini درسونو ته لاسرسي ولري.  د ESL درسونه به هره اونۍ د HISD ټلویزون څخه نشر شي، او په  ***https://www.youtube.com/TheHISD*** لینک باندې د کلیک کولو پواسطه د لاسرسي وړ دي.







## د TEA خبرپاڼه

د والدېنو او کورنېو د خبرپاڼې دا نسخه به له تاسو او ستاسو له ماشوم سره مرسته وکړي چې ځنې بنسټیز ګامونه چې تاسو یې پورته کولاې شئ پوه شئ ترڅو د زده کړې او ازموېنې مثبته تجربه چې له معمولو کارونو سره پیلیږي، دوامنه کړئ. دا خبرپاڼه به پدې اړه هم نظریې وړاندې کړي چې تاسو په کور کې له خپل ماشوم سره څنګه مرسته کولاې شئ ترڅو هغه راتلونکو ازموېنو ته چمتو کړئ. دا لینک تعقیب کړئ ترڅو پوه شئ چې تاسو د راتلونکو ایالتي ارزونو لپاره خپل ماشوم څنګه په ښه ډول سره ملاتړ کولاې شئ.
***https://www.smore.com/gd1m4***

**د والدینو او کورنیو خبر پاڼه**

ژمی 2022

ټول محتویات به د خبر پاڼي د هسپانوي نسخي لپاره انتقال شي. نورې ژبې د S'more خبر پاڼي له لارې شتون لري.










## د TEA زده کونکي د سرچینې پاڼه

TEA د زده کونکو د سرچینو د Txel.org پاڼه اوس اوسمهاله کړې ده چې راتلونکي دوه ژبني زده کونکي ملاتړ او له لېسې څخه وروسته زده کړې ته یې چمتو کړي.




## د نېټي خوندي کول

د والدېنو د ښکېل کیدو اضافي فرصت

# لاندې نېټه خوندي کړئ!



**د دوه ژبو والدېنو جلسه**


**پنجشنبه، اپریل 20، 2023**

**ماښام 6:00 بجې.**

**ځاې: باید مشخص شي**

ډېر مالومات:
***https://www.houstonisd.org/Page/189833***

## د خوښې وړ ښوونځي دفتر




د خوښې وړ ښوونځي دفتر د غوښتنلیک یو نوی سیستم پلي کوي.
د غوښتلینک پروسیس اوسمهال پرانستی دی.

**2 پړاو: اپرېل 5، 2023 - جون 15، 2023**

په لاندې لینک باندې د کلیک کولو پواسطه لا ډېر مالومات ترلاسه کړئ.
***https://houstonisd.sharepoint.com/sites/myHISD/ASM/SitePages/HISD-Choice-Application-Timeline--Phase-1.aspx***